# دجنت دتولونه لوئي نعمت

17-December-2020

هفته وراه د سُنّتو ډکه اِجتماع کښې کيدونکے
د سُنّتو ډک بيان

(For Islamic Brothers)

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰہِ رَبِّ الۡعٰلَمِیۡنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الۡمُرۡسَلِیۡنَ

اَمَّا بَعۡدُ فَاَعُوۡذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیۡطٰنِ الرَّجِیۡمِ ؕ بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ ؕ

# د جنت د ټولو نه لوئي نعمت

اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیۡكَ یَا رَسُوۡلَ الله وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصۡحٰبِكَ یَا حَبِیۡبَ الله

اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیۡكَ یَا نَبِیَّ الله وَعَلٰی اٰلِكَ وَ اَصۡحٰبِكَ یَا نُوۡرَ الله

نَوَیۡتُ سُنَّتَ الۡاِعۡتِکَاف

(ترجمه: ما د سُنَّتِ اعتکاف نِيَّت اوکړو)

**مُحترمو اسلامي ورونړو!** چې کله جُمات ته د حاضريدو سعادت درنصيب شي، نو د اِعتِکاف نِيَّت کوئ، چې د اِعتِکاف ثواب مو هُم کيږي. خو دلته دا خبره هُم ياده ساتئ چې د اِعتِکاف نِيَّت د خوراک څښاک يا اُوده کيدلو د پاره نه وي بلکه د هغې نه مقصود صرف د **الله** کريم رِضا وي- **''فتاویٰ شامی''** کښې دي: که څوک په جُمات کښې خوراک، څښاک يا اُوده کيدل غواړي نو د اِعتِکاف نِيَّت دِ اوکړي، لږ ساعت دِ ذِکۡرُ الله اوکړي بيا چه څه غواړي کوي دِ (يعني بيا که غواړي نو خوراك څښاك کولے شي او اُوده کيدے شي) که کيدے شي نو د اِعتِکاف نِيَّت کولو نه پس 12 ځله دُرُود شريف اُووائې يا بل څه نيک کار اوکړئ- اِنۡ شَآءَالله ثواب به مو زيات شي او ورسره ورسره به ستاسو د پاره په جُمات کښې خوراك څښاك هُم جائز شي.

## د دُرُود شريف فضيلت

فرمانِ مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دے: څوك چې په ما باندې په يوه ورځ کښې زر

ځله دُرُود شريف لولي، هغه به د هٰغه وخته پورې نه مري تر څو چې په جَنَّت کښې خپل مقام اُو نه وِيني.[1]

منتظر ہیں جنتیں اس کے لیے　　وِرد ہے جس کا ثنائے مُصْطَفٰے[2]

جَنَّتونه دي د هغه په انتظار کښي　　وظيفه چې د چا وي ثنا د مُصطَفٰى

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب!　　صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

**مُحترمو اسلامي ورونړو!** د ثواب حاصلولو د پاره د بيان اوريدو نه مخکښې ښه ښه نِيَّتونه کوو: **فرمَانِ مُصطَفٰے** صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: "**نِيَّةُ الْمُؤْمِنِ خَيْرٌ مِّنْ عَمَلِهٖ**" د مُسلمان نِيَّت د هغه د عمل نه بهتر دے.[3]

**مَدَني ګل:** نيك او جائز کار کښې چې څومره ښه نِيَّتونه زيات وي هغه همره به ثواب هُم زيات کيږي.

## د بيان اوريدلو نيتونه

❖ ښو ښو نِيَّتونو سره د شروع نه تر آخرې پورې بيان واورئ ❖ پوره تَوجُّه سره د بيان اوريدلو نِيَّت اوکړئ ❖ که قلم او ډائري لرئ نو د اَهَمو نکاتو نوټ کولو نِيَّت هُم اوکړئ.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب!　　صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

---

[1] ...... الترغيب والترهيب، كتاب الذكر والدعا، الترغيب في اكثر الصلاة على النبي، ٢/٣٢٦، حديث: ٢٥٩٠

[2] ......قبالۂ بخشش

[3] ....معجم كبير سهل بن سعد الساعدى...الخ، ٦/١٨٥، حديث ٥٩٤٢

**خوږو او مُحترمو اسلامي وروڼړو!** نن زمونږ د اجتماع د بيان موضوع ده "**د جنت د ټولو نه لوئي نعمت**" په دې بيان کښې به مونږ اورو چې د جنت تياري څنګه کيدے شي؟ د جنت د ټولو نه لوئي نِعمت کوم يو دے؟ د يو څو جنتي نعمتونو بيان، د جنت د درجو شمير، د جنت د ټولو نه لوئي نِعمت، جنت ته بوتلونکي اعمال، د دې نه علاوه به د الله پاك د عظيم نِعمَت "**جنت**" مُتَعَلِّق ډير اهم معلومات د اوريدلو سعادت حاصلوو. په ډيره توجه او د زړه په حاضرئ سره پورا بيان د اوريدلو کوشش اوکړئ، اِنْ شَآءَ اللّٰه د ډيرو معلوماتو خزانه به په لاس درشي.

**الله** پاک دِ په خپل فضل و کرم مونږ ټولو ته د نعمتونو او راحتونو والا کور جَنَّت کښي ځائے رانصيب کړي-

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼړو!** راځئ چې د ټولو نه اوَّل د جنتي نعمتونو په باره کښې واورو:

## د کمې درجے والا جنتي

د حضرت سَيِّدُنا مُغِيره بِن شُعبه رَضِیَ اللهُ عَنْه نه روايت دے چې سرکارِ مدينه صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: حضرت سَيِّدُنا موسٰی کليمُ الله عَلَيْهِ السَّلَام چې کله د خپل ربّ نه د ټولو نه کمې درجے والا جنتي په باره کښې تپوس اوکړو چې د هغه منزل به څومره غټ وي؟ نو الله پاك اوفرمائيل: هغه کس به د جنتيانو جنت ته د داخليدلو نه پس راځي نو هغه ته به اووئيل شي چې "**جنت ته داخل شه**". هغه به عرض اوکړي: اے ربه! زه څنګه داخل شم؟ حالانکه خلق خپلو محلونو ته تلي دي او هغوئي په خپلو مرتبو او مقامونو قبضه کړې ده. الله پاك به هغه ته اوفرمائي: آيا ته په دې راضي ئې

چې تا ته په جنت کښې د دُنيا د يو بادشاه همره نعمتونه درکړے شي؟ هغه به عرض اوکړي: يا ربه! زه راضي يم. الله پاك به هغه ته اوفرمائي: ستا د پاره هغه همره دي او د هغې په مِثَل، او د هغې په مِثَل، او د هغې په مِثَل، (د الله کريم کلام به جاري وي چې) هغه به په پينځم ځل کښې اووائي: اے زما ربه زه راضي يم. **الله** پاك به اوفرمائي: دا هم ستا د پاره او د دې په شان لس همره نور هم واخله او د دې نه علاوه هر هغه څيز کوم چې ستا د زړه خوښ شي او ستا د سترګو خوښ شي. (بيا به هغه کس) عرض اوکړي: اے زما ربه! زه راضي يم. بيا حضرت سَيِّدُنا موسٰى كليمُ الله عَلَيْهِ السَّلَام د ټولو نه اعلٰى درجے والا جنتـي په باره کښې تپوس اوکړو: نو **الله** پاك اوفرمائيل: دا هُغه خلق دي کوم چې ما خوښ کړي دي او د هغوئې په عِزَّت او کرامت باندې ما په خپل دَستِ قُدرت مُهر لګولے دے، د هغوئې د پاره هُغه نِعمتونه دي کوم چې نه يوے سترګې ليدلي دي، نه يو غوږ اوريدلي دي او نه د يو انسان په زړه کښې د هغې خيال راغلے دے. رَسُولِ اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: د هُغه نِعمتونو تصديق د قرآنِ کريم په دې آيت کښې دے:

فَلَا تَعْلَمُ نَفْسٌ مَّآ اُخْفِيَ لَهُمْ مِّنْ قُرَّةِ اَعْيُنٍ ۚ جَزَآءًۢ بِمَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿۱۷﴾

[مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالاِيمان: نو يو کس ته هُم معلوم نه دي کوم د سترګو يخوالے چې د هغوئې د پاره پټ ساتلے شوے دے.[1]

(پ۲۱، السجدة:۱۷)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د جنَّت درجے

حضرت سَيِّدُنا عُباده بِن صامِت رَضِيَ اللهُ عَنْه بيانوي چې سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

---

1 ...... مسلم، کتاب الايمان، باب ادنى اهل الجنة منزلة فيها، حديث ۱۸۹، ص۱۱۸

فرمائیلي دي: په جَنَّت کښې سل (100) درجے دي، هرو دوو درجو کښې د آسمان او زمکې هُمره فاصله ده او فردوس د ټولو نه اوچته درجه ده. هُم هغې نه د جَنَّت څلور دریابونه بهیږي او د هغې د پاسه عرش دے، لِهٰذا چې کله تاسو د الله پاك نه سُوال کوئ نو د **فِردوس سُوال کوئ.**[1]

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## جَنَّتُ الفِردوس د چا د پاره دے؟

په حدیثِ مبارکه کښې د خپل ربّ کریم نه د جَنَّتُ الفِردوس غوښتلو ارشاد شوے دے چې د خپل ربّ نه جَنَّتُ الفِردوس اوغواړئ، دا د ټولو نه اعلٰی جَنَّت دے او دا د چا د پاره دے،

په سیپاره 16 سورهٔ کهف آیت نمبر 107 کښې ارشاد دے:

اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَ عَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ كَانَتْ لَهُمْ جَنّٰتُ الْفِرْدَوْسِ نُزُلًا ﴿۱۰۷﴾ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا لَا يَبْغُوْنَ عَنْهَا حِوَلًا ﴿۱۰۸﴾ (پ۱۶، الکھف: ۱۰۷تا۱۰۸)

[مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالاِیمان: بیشکه هغوئي چا چې اِیمان راوړے دے او نیك کارونه ئې کړي دي، د فردوس باغونه د هغوئي د پاره میلمستیا ده. هغوئي به همیشه په هغې کښې اوسیږي د هغې نه به ځائے بدلول نه غواړي.

په تفسیر صِراطُ الْجِنان کښې دي: په دُنیا کښې په الله پاك اِیمان راوړولو والؤ او د هغه د رضا د پاره ښه اعمال کوونکو د پاره الله پاك د میلمستیا اِنتِظام په جَنَّتُ

[1] ...... جامع الترمذی، کتاب صفة الجنة، باب ماجاء فی....الخ، الحدیث۲۵۳۹، ۴/۲۳۸

الفِردوس کښې کړے دے.[1]

د حضرت سَيِّدُنا كَعبُ الاحبار رَضِیَ اللہُ عَنْہ ارشاد دے: جَنَّتُ الفِردوس خاص د هغه کس د پاره دے څوك چې د نيکئ حکم ورکوي او د بدئ نه منع کوي.[2]

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** آيتِ کريمه او حديثِ مبارَکه زمونږه رهنمائي کوي چې د کوم جَنَّتُ الفِردوس سُوال کولو حکم زمونږه خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰی صَلَّی اللہُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائيلے دے هغه به د نيکو اعمالو په بدله کښې مِلاويږي، د نيکئ دعوت ورکولو او بدئ نه منع کولو باندې به ملاويږي.

قربان شم د شيخِ طريقت، اَميرِ اهلسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَه نه چې هغوئي دعوتِ اسلامي ته هُم دا مقصد ورکړے دے چې **ما ته د خپل ځان او د ټولې دُنيا د خلقو د اصلاح کوشش کول دي** ان شآءَ الله، يعني ځپله هم نيکئ کول دي او نور خلق هم نيك جوړول او د ګناهونو نه بچ کول او د الله پاك په لاره لګول دي او هُم دا د حديثِ مبارَکه مفهوم دے چې جَنَّتُ الفِردوس د هغه کس د پاره دے څوک چې د نيکئ دعوت ورکوي او د ګناه نه منع کوي. نو راشئ دعوتِ اسلامي کښې شامل شئ دا به تاسو په دُنيا کښې د نيکئ په کارونو کښې مشغول کړي او په آخرت کښې به مو د جَنَّتُ الفِردوس ميلمانه جوړ کړي.

## د جَنَّت دُعا

راځئ چې واورو: د جنَّت دُعا غوښتونکي د پاره جنَّت ځپله څه دُعا غواړي.

[1] ...... تفسيرکبير، الکهف، تحت الآية: ۱۰۷، ۷/ ۵۰۲، روح البيان، الکهف، تحت الآية: ۱۰۷، ۵/ ۳۰۵، ملخصاً

[2] ...... تنبيه المغترين، ص۲۳۶

حضرت سَيِّدُنا اَنَس بِن مالِك رَضِيَ اللهُ عَنْه بيانوي چې نبـي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائي: چا چې درې ځله د الله پاك نه د جنَّت سُوال اوكړو نو جنَّت دُعا كوي چې يا **الله**! دا جنَّت ته داخل كړې او څوک چې درې ځله د دوزخ نه پناه اوغواړي نو دوزخ دُعا كوي يا **الله**! دے د اور نه پناه كښې اوساتې.[1]

په قرآنِ پاك كښې هم د جنَّت نِعمتونه بيان شوي دي: په سيپاره **27** سورهٔ رحمٰن آيت نمبر **56** نه **58** پورې ارشاد دے:

فِيْهِنَّ قٰصِرٰتُ الطَّرْفِ ۙ لَمْ يَطْمِثْهُنَّ اِنْسٌ قَبْلَهُمْ وَ لَا جَآنٌّ ﴿۵۶﴾ فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿۵۷﴾ كَاَنَّهُنَّ الْيَاقُوْتُ وَ الْمَرْجَانُ ﴿۵۸﴾ (پ۲۷، الرحمن:۵۶تا۵۸)

[مَفهُوم] ترجمهٔ كنزُالاِيمان: په هغه پالنګونو باندې هغه ښځې دي چې د خاوند نه سِوا چا ته يو نظر هُم نه ګوري د هغوئي نه مخكښې يو سړي او يو پيرې هُم هغو ته لاس نه دے لګولے، نو د خپل ربّ كوم كوم نعمت به دروغ ګنړئ، لكه هغه چې ياقوت او مرجان وي.

په تفسير **صراطُ الجِنان** كښې دي د هغې مفهوم څه داسې دے: په جنتـي **محلونو** كښې به د جنتـي سړو د پاره داسې پاكې بيبيانې وي چې هغوئي به د خپل خاوند نه علاوه بل چا ته هډو ګوري نه او په هغوئي كښې به هره يوه خپل خاوند ته وائي: زما دِ د **رَبّ** كريم په عِزَّت و جلال قَسم وي! په جنت كښې ما ته يو څيز هُم ستا نه زيات ښه نه ښكاري، د هغه خدائے پاك حَمْد [ثنا صِفَت] دے چا چې ته زما خاوند جوړ كړے ئې او زه ئې ستا ښځه جوړه كړې يم. او هغه بيبيانې حُورِ عِين دي چې هغوئي په جنت كښې پيدا كړے شوي دي، ځكه هغوئي ته د هغوئي جنتيانو خاوندانو نه علاوه يو سړي يا يو پيرې لاس نه دے لګولے. د بعضو مُفَسِّرينو په نِزد د بيبيانو نه

[1] ...... ترمذی، کتاب صفة الجنة، باب ماجاء فی....الخ، ۲۵۷/۴، حدیث: ۲۵۸۱

مراد د دُنيا زنانه دي، هغوئي به بيا نوې پيغلې پيدا کړے شي او د هغوئي د پيدا کيدلو نه پس به هغوئي ته د خپلو خاوندانو نه علاوه هيڅ چا لاس نه وي لګولے.[1] او هغه جنتي حورې به په صفائي او ښکلي رنګ کښې د ياقوت او مرجان او ملغلرو په شان وي.[2] څنګه چې هغوئي په خپل رنګ او جوړښت کښې ډيرې ښائسته دي دغه شان به دا [دُنياوي ښځې] هُم ډيرې زياتې ښائسته وي.

## د جنتــي حورو صفائی او ښکلے رنګ

د حضرت سَيِّدُنا عبدُ الله بِن مسعود رَضِیَ اللهُ عَنْه نه روايت دے چې تاجدارِ رِسالَت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائيلي دي: د جنتــي زنانؤ د پنډئ سپين والے به د اوياؤ جوړو نه لاندې ښکاري تر دې چې د پنډو مغز به ئې هُم ښکاري او دا په دې وجه چې الله پاك ارشاد فرمائيلي دي: **كَاَنَّهُنَّ الْيَاقُوْتُ وَ الْمَرْجَانُ** [مَفهُوم] ترجمۀ کنزُالاِيمان: لکه هغه چې ياقوت او مرجان دي] او ياقوت داسې کاڼړے دے چې که په هغې کښې تار واچولے شي او د بَهَر نه ليدل غواړئ نو ليدلے ئې شئ.[3]

## جنتــی حورې به څنګه وي؟

صدرُ الشريعه، حضرت مفتــي محمد امجد علي اعظمي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيه په بَهارِ شريعت جلد اوَّل حصه1 کښې د احاديثو مضامين بيانوي، ليکي: که حوره خپل ورغوے د زمکې او آسمان په مينځ کښې را اوباسي نو د هغې د حُسن [يعني ښائست] په وجه به مخلوق په فتنه کښې اخته شي او که خپله لُوپټه ښکاره کړي نو د هغې د ښائست په

---

[1] ...... روح البيان، الرحمٰن، تحت الآية: ٥٦، ٩/٣٠٧-٣٠٨، خازن، الرحمٰن، تحت الآية: ٥٦، ٤/٢١٤، ملتقطاً

[2] ...... مدارك، الرحمٰن، تحت الآية: ٥٨، ص١١٩٦

[3] ...... ترمذی، كتاب صفة الجنة والنار، باب فى صفة نساء اهل الجنة، ٤/٢٣٩، الحديث: ٢٥٤١

وجه به لمَر داسې شي لکه د لـمر په مقابله کښې ډيوه. او جنتيان به ټول يو زړه والا وي، د هغوئې په مينځ کښې به څه اختلاف و بُغض نه وي. په دې کښې به هر يو ته د حُورِ عِين نه کم نه کم دوه بيبيانې داسې نصيب کيږي چې اويا اويا جوړے به ئې اغوستي وي، بيا به هم د هغه لباس او جامو او غوښې نه بَهَر د هغوئې د پنډو مغز ښکاري، لکه څنګه چې په سپينه شيشه کښې شراب سره ښکاري. سړے به خپل مخ د هغې په مخ کښې د آئينے نه صفا ويني، سړے چې کله هُم د هغې خوا له ورشي نو هغه به داسې وي لکه بې واده پيغله خو د دې په وجه به سړي يا ښځې يو ته هُم د هيڅ قِسمه تکليف نه کيږي. که جنتـي زنانه په ووه سمندرو کښې لاړې توك کړي نو هغه به د شهدو [يعني ګبين] نه هُم زيات خوږه شي. چې کله بنده جنت ته داخل شي نو د هغه سر او ښپو ته به دوه حُورې په ډير ښکلي آواز کښې سندره وائي خو د هغوئې سندره به د شيطاني سندرو او سازونو د آوزار نه پاکه وي او د الله پاك حَمد و ثناء به وي، د هغوئې به داسې ښکلي آوازونه وي چې مخلوق به داسې آواز کله هُم نه وي اوريدلے او په سندرو کښې به دا هُم وائي چې مونږه هميشه اوسيدونکي يُو، مونږه آرام او سکون والا يُو، هيڅ کله به په تکيف کښې نه پريوځو، مونږه راضي يُو، نه ناراضه کيږو. مبارکي ده هغه لره څوک چې زمونږ دے او مونږه د هغه يُو، د ادنٰی جنتـي د پاره به اتيا (80) زره خادمان او دوه اويا (72) زره بيبيانې وي.[1]

فرما کے شفاعت مِری اے شافعِ محشر! دوزخ سے بچا کر مجھے جنت میں بسا نا[2]

اے شافعِ محشَر! زما اوکړه شفاعت دوزخ نه مې ساته، جَنَّت ته مې بوځه

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

---

[1] ...... بہارِ شریعت، حصہ۱، ص۸۴،۷۹، بتغیر قلیل

[2] ...... وسائلِ بخشش مُرمم، ص۳۵۴

## د جنَّت نِهرونه

په جنت کښې څلور دريابُونه دي، يو د اوبو، دويم د شَـودو [يعني پئيو]، دريم د شهدو، څلورم د شرابو، بيا د هغې نه نهرونه وتلي دي او د هر يو [جنتـي] په کور کښې روان دي. هلته نهرونه په زمکه د پاسه بهيږي، د نهرونو يوه غاړه د غمو او بله د ياقوتو ده او د هغه نهرونو زمکه د خالصو مُشکو ده. [1]

د جنتيانو لباس به نه زړيږي، نه به د هغوئي ځواني ختميږي. په جنت کښې خوب نشته ځکه چې خوب يو قِسمه مرګ دے او په جنت کښې مرګ نشته. جنتيان چې کله جنت ته لاړ شي هر يو به د خپلو اعمالو په مقدار مرتبه حاصلوي او د هغه د فضل حد نشته. بيا به هغوئي ته د دُنيا د يوے هفتے د مقدار نه پس اجازت ورکړے شي چې د خپل پروردګار دِيدار اوکړئ، عرشِ اِلٰهي به ښکاره شي او الله پاك به د جنت د باغونو نه په يو باغ کښې تَجَلّـي اوفرمائي او د هغه جنتيانو د پاره به منبرونه اولګولے شي، د نُور منبرونه، د ملغلرو منبرونه، د ياقوت منبرونه، د زَبرجد منبرونه، د سرو زرو منبرونه، د سپينو زرو منبرونه او په جنتيانو کښې د ټولو نه کمې درجے والا به د مُشکو او کافورو په ختّانو کښيني او په هغوئي کښې به اَدنٰی يو هُم نه وي، ځکه چې هر يو جنتـي به په خپل ګمان کښې کرسئ والا د خپل ځان نه لوئي نه ګڼړي. او د الله پاك ديدار به داسې صفا کيږي لکه لمَر او د څوارلسمې شپې سپوږمئ چې هر يو ئې د خپل خپل ځائے نه ويني، د يو ليدل به د بل د پاره رُکاوَټ نه وي او الله پاك به په هر يو تَجَلِّـي فرمائي، په هغوئي کښې به چا ته اوفرمائي: اے فلانيه د فلاني ځويه! تا ته ياد دي، په کومه ورځ چې تا داسې کړي وو؟ هغه ته به د دُنيا بعضې ګناهونه

---

[1] ...... الترغيب والترهيب، كتاب صفة الجنة والنار، فصل فى انهار الجنة، الحديث٣٥/٥٧٣٣، ج٤، ص٣١٥

ور یاد کړي، بنده به عرض اوکړي: اے ربه! آیا تا زه اُو نه بخښلم؟ ا ﷲ پاک به فرمائي: آو! زما د بخښنې د فراخۍ په وجه ته دې مرتبے ته را رسیدلے ئې، هغه ټول به په دې حال وي چې وریځ به خوره شي او داسې خوشبو به را اُووَرَوي چې داسې خوشبو به خلقو کله هُم نه وي محسوسه کړي او ﷲ پاك به اوفرمائي: ځئ هغه طرف ته کوم چې ما ستاسو د پاره عِزَّت تیار کړے دے، څه چې غواړئ واخلئ، بیا به خلق یو بازار ته لاړ شي چې د هغې نه به فرښتے چاپیره وي. په هغه [بازار] کښې به هٰغه څیزونه وي چې د هغې په مِثَل نه سترګو لیدلي دي، نه غوږونو اوریدلي دي او نه په زړونو کښې د هغې خیال راغلے دے. د هغه [بازار] نه چې کوم څیز غواړي دوئي له به ورکړے شي او اخستل خرڅول به نه وي، جنتیان به په هغه بازار کښې د یو بل سره ملاقات کوي. کمې مرتبے والا به غټې مرتبے والا ته ګوري د هغه لباس به خوښ کړي، لا خبرې به ختمي شوي نه وي چې دا به ګنړي چې زما لباس د هغه نه ښه دے او دا په دې وجه چې په جنت کښې به د چا د پاره غم نه وي. بیا به د هغه ځائے نه خپلو خپلو کورونو ته بیرته راشي. د هغوئي بیبیانې به د هغوئي استقبال کوي، مبارکي به ورکوي چې ته خو ډیر زیات ښکلے شوے بیرته راغلې، چې زمونږ د خوا نه تللو وخت کښې دومره ډیر ښائسته نه وے، هغه به جواب کښې وائي: مونږ ته د ﷲ پاك په حُضُور کښې د کښیناستلو سعادت نصیب شو نو زمونږه د ښائست زیاتیدل ضرور زمونږ لائق وو.

جنتیان چې د یو بل سره ملاقات کول غواړي نو د یو تخت به د بل خوا ته لاړ شي او په یو روایت کښې دي چې هغوئي له به د اعلٰی درجے سورلئ او اسونه راشي او په هغې به سواره شي، چرته چې غواړي ځي به. د ټولو نه کمې درجے والا جنتي وي، د هغه باغونه، بیبیانې او نعمتونه او خادمان او تخت د زرو کالو د فاصِلے پورې وي، په هغوئي کښې د ﷲ پاك په نِزد د ټولو نه مُعَزَّز هغه دي څوک چې سحر ماښام د ﷲ پاك

د ديدار نه مُشَرَّفه کيږي. چې کله جنتيان جنت ته لاړ شي نو الله پاك به هغوئي ته اوفرمائي: "نور څه غواړئ چې در ئې کړم." عرض به اوکړي: تا زمونږه مخونه روښانه کړل، جنت ته دِ داخل کړو، د دوزخ نه دِ خلاصے راکړو، هغه وخت کومه پرده چې په مخلوق وه، اوچته به کړے شي نو د الله پاك د ديدار نه زيات بهترين به بل يو څيز هُم هغوئي ته نه وي مِلاو شوے.[1]

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب!　　صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** تاسو د جنت د نِعمتونو ذِکر واوريدلو چې **الله** پاك د خپلو بندګانو د پاره څومره عظيمُ الشان نعمتونه پيدا کړي دي. الله پاك دِ زمونږ خاتمه په اِيمان اوکړي او مونږ ته دِ هم د دغه نعمتونو نه حصه راعطا کړي، د کوم جنت چې دا نِعمتونه دي راځئ چې د هغې قِسمونه واورو چې جنتونه څو دي:

## د اَتو [8] جنتونو نومونه

د حضرت سَيِّدُنا عبدُالله بِن عباس رَضِیَ اللہُ عَنۡھما نه روايت دے چې جنتونه اته 8 دي او د هغې نومونه دا دي: (1) **دارُ الْجلال** (2) **دارُ الْقرار** (3) **دارُ السَّلام** (4) **جَنَّتِ عَدْن** (5) **جَنَّتِ مَأْوٰى** (6) **جَنَّتِ خُلد** (7) **جنَّتُ الْفِردَوس** (8) **جَنَّتِ نَعِيم**.[2]

## جنتِ عدن او د هغې نِعمتونه

الله پاك جَنَّتِ عدن په خپل دستِ قدرت پيدا کړے دے، د هغې يوه خښته د سپينې ملغلرې، يوه د سُور ياقوت او يوه د شين زَبرجَد ده، خټه ئې د مُشکو ده، د هغې

[1] ...... بهارِ شريعت، ص۸۲/۸۶، بتغير قليل

[2] ...... روح البيان، الصف، تحت الآية: ۱۲، ۹/ ۵۰۸

كبل د زعفرانو دي، غاړې ئې د ملغلرو او خاوره ئې د عَنبرو ده.[1] او په يو بل روايت كښې دي: چې كله الله پاك جَنَّتِ عدن پيدا كړو نو په هغې كښې ئې هٰغه څيزونه پيدا كړل چې نه يوے سترګې ليدلي دي، نه يو غوږ اوريدلي دي او نه په يو زړه كښې د هغې خيال راغلے دے. بيا **الله** پاك جَنَّتِ عدن ته اوفرمائيل: زما سره كلام اوكړه: هغه اووئيل: "قَدْ اَفْلَحَ الْمُؤْمِنُوْنَ" بيشكه ايمان والا كامياب شو.[2]

## د جنت د ټولو نه لوئ نعمت

د جنَّت په نِعمتونو كښې به د ټولو نه لوئ نِعمَت دا وي چې الله پاك به د جنتيانو نه راضي وي. هيڅ كله به نه ناراضه كيږي. او د **الله** پاک رضا د ټولو [نعمتونو] نه لويه ده.[3]

دا نِعمَت د ټولو نه اعلٰى او د عاشقانِ اِلٰهي د ټولو نه لويه تمنا ده. د الله پاك رضا او ديدار به د كوم عمل په بدله كښي نه وي بلكه دا به خاص د ربِّ رَحِيم له طرفه تحفه وي. الله پاك دِ مونږ ته د خوږ حبيب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خاطر د دې نه حِصَّه را عطا كړي. آمين

نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائي: چې كله جنتيان جنت ته داخل شي نو الله پاك به اوفرمائي: "آيا نور څه غواړئ چې درئې كړم." عرض به اوكړي: تا زمونږه مخونه روښانه كړل، جنت ته دِ داخل كړو، د دوزخ نه دِ خلاصے راكړو، نو **الله** پاک به پرده اوچته كړي او جنتيانو ته به د خپل ربّ د ديدار كولو نه زيات بهترين بل يو نِعمت هُم نه وركولے كيږي. بيا خوږ آقا مكي مدني مصطفٰى صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دا آيتِ

---

1 ...... ابن ابي دنيا، صفة الجنة، ٦/٣١٩، الحديث: ٢٠

2 ...... معجم الاوسط، باب الالف، من اسمه احمد، ١/٢١٥، الحديث: ٧٣٨

3 ...... خازن، التوبة، تحت الآية: ٧٢، ٢/٢٦١

مبارَکه تِلاوت کړو: لِلَّذِیۡنَ اَحۡسَنُوا الۡحُسۡنٰی وَ زِیَادَۃٌ ؕ (پ ۱۱، یونس: ۲۶) [مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالاِیمان: نيکئ کوونکو د پاره ښيګړه ده او د دې نه هم زياته. [1]

اے د جنت طلبګارو: مونږه د جنت د نِعمتونو تذکِره واوريدله، د اَتَو جنتونو نومونه مو واوريدل او د جنت د ټولو نه لوئ نِعمَت په باره کښې مو هم واوريدل. يقيناً د داسې نِعمتونو اوريدلو سره د انسان زړه د هغې د حاصلولو او د هغې طرف ته زر د تللو خواهش کوي. او ولے به نه وي چې جنت ته د زر تللو حکم الله پاك مونږ ته په قرآنِ کريم کښې کړے دے. په سيپاره 4 سورۂ آلِ عمرٰن آيت نمبر 133 کښې ارشاد دے:

وَ سَارِعُوۡۤا اِلٰی مَغۡفِرَۃٍ مِّنۡ رَّبِّکُمۡ وَ جَنَّۃٍ عَرۡضُہَا السَّمٰوٰتُ وَ الۡاَرۡضُ ۙ اُعِدَّتۡ لِلۡمُتَّقِیۡنَ ﴿۱۳۳﴾ (پ۴، آل عمران: ۱۳۳)

[مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالاِیمان: او ورمنډه کړئ د خپل رب له طرفه بخښنې طرف ته، او داسې جنت طرف ته چې د هغې پلن والي کښې ټول آسمانونه او زمکه راځائے شي، د پرهيزګارو د پاره تيار کړے شوے دے.

په تفسير صِراطُ الجِنان کښې دي: ګناهونو نه د توبه کولو په ذريعه، د الله پاك د فرائضو په ادا کولو، په نيکو عمل کولو او ټولو اعمالو کښې د اِخلاص پيدا کولو په ذريعه د خپل ربّ کريم بخښنې او جنت طرف ته تادي اوکړئ. که جنت ته تلل غواړئ نو د خپلو ګناهونو نه به توبه کول ضروري وي، د الله پاك فرائض ادا کول، په نيکو باندې عمل کول، او خالِص د الله پاك د پاره به نيکئ کول وي ځکه چې جنت حاصلول آسان نه دي بلکه يوه مشکله مُعامَله ده په حديثِ پاك کښې دي رَسُولُ الله

[1] ...... مسلم، کتاب الایمان، باب اثبات رؤیة المؤمنین فی الآخرة ربهم، ص۱۱۰، حدیث: ۱۸۱

صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: جَهَنَّم په خواهشاتو پټ کړے شوے دے او جنت په ناخوښه څيزونو پټ کړے شوے دے.[1]

يعني جَنَّت حاصلولو د پاره به د هغه څيزونو نه بچ کيدل ضروري وي څه سره چې نفس ته راحت ملاويږي ځکه چې هغه څيزونه [پريښودل] انسان ته ناخوښه وي لکه په کور کښې ناسته آسانه او د **الله** په لار کښې وتل مشکل دي، د سحر په وخت کښې اوده کيدل آسان او لمانځه ته پاڅيدل او جُمات ته د جَمعې د لمانځه د پاره تلل مشکل دي، د ګناه کار کول آسان او د ګناهونو نه ځان بچ کول مُشکل دي، د جنت حاصلولو د پاره مونږ له پکار دي چې خپل ځان د الله پاك راضي کولو والا کارونو کښې مصروف کړو نو اِنْ شَآءَ اللّٰه جنت به مو نصيب شي.

راځئ چې اوس مونږه د هغه اعمالو په باره کښې يو څو واقعات واورو کوم چې د بُزُرګانِ دين جنت ته د داخليدو سبب جوړ شو.

1... اَمِيرُ المُؤمِنِين، حضرت سَيِّدُنا ابوبکر صِدِّيق رَضِيَ اللهُ عَنْه چا په خوب کښې اوليدلو عرض ورته اوکړے شو چې تاسو به هميشه د خپلې ژبې په باره کښې فرمائيل چې دې زه د تباهئ ځايونو ته رَسَوَلے يم، **فَمَا ذَا فَعَلَ اللّٰهُ بِکَ** يعني الله پاك ستاسو سره څه مُعامَله اوفرمائيله؟ ارشاد ئې اوفرمائيلو: ”ما په دې ژبه کلمه طيبه لوستلي وه پس الله پاك زه جنت ته داخل کړم.“

**صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد**

[1] ...... بخاری

# د حکايت نه حاصل شوې مدني ګلونه

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** واقعي غلطه وينا کوونکي ژبه انسان په دُنيا کښې هُم پريشانه کوي او په آخرت کښې هم مصيبت جوړيږي او د جهنم سبب ګرځي. او که مونږه هم دا ژبه د دروغو، غِيبَت، **چُغلئ** نه بچ اوساتله او د الله پاك او د رسولِ کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په ذِکر کښې مو هر وخت مشغوله اوساتله نو دا زمونږه جنت ته د داخليدلو سبب هُم جوړيدے شي. هم دا ژبه ده چې غلطه اوخوزيږي او چا ته بد رد اُووائي او مخامخ کس ته غصه ورشي نو د ډيرو خلقو د قتل سبب هُم جوړيږي او که هم دا ژبه خوږې خبرې اوکړي نو د ډيرو خلقو په مينځ کښې د مَحبَّت سبب جوړيږي. خفه زړونه خوشحالوي، هم دا ژبه د خپل ورور د خفه کولو سبب جوړيږي او هم دا ژبه ورونړه د مرګه پورې په اتفاق ساتي. هم د دې ژبې خواږه الفاظ د سخت نه سخت زړه هُم نرموي او هم دا ژبه ده چې کله داسې څه اُووائي چې خپل رب ناراضه کړي.

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د ژبې قُفلِ مدينه لګولو يعني خپل ځان د فضولو خبرو نه بچ کولو کښې عافيت [يعني خير] دے. د خاموشئ عادت جوړولو د پاره څه نه څه خبرې د ليک په صورت کښې يا په اشاره کښې کول بےحده فائده مند دي.

د مشهور مُفسرِ قرآن حضرت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د فرمان مفهوم دے: ''څوک چې د ژبې بے باکه وي، هره ښه او بده خبره کوي نو پوهه شه چې د هغه زړه سخت دے، په هغه کښې حيا نشته، سختي هغه وَنه ده چې د هغې ځيله د انسان په زړه کښې ده او د هغې خاخ په دوزخ کښې دے د داسې بےخوفه انسان انجام دا وي چې هغه د الله او رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم بے ادبه جوړ شي او کافِر شي.'' شيخ

طریقت، اَمیرِ اهلسنَّت، بانئ دعوتِ اسلامي حضرت علامه مولانا ابو بلال محمد الیاس عطار قادري رضوي دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِیَہْ د فضولو خبرو نه د بچ کیدو ذِهن ورکوي او په نیک عمل نمبر 53 کښې فرمائي: آیا نن تاسو خپله **ژبه د فُضول استعمال** (یعني هغه خبرې چې په هغې کښې دِیني یا دُنیاوي فائده نه وي هغې) نه د ساتلو عادت جوړولو د پاره څه نه څه په اِشاره خبرې اوکړې؟ (کاش چې روزانه کم از کم څلور ځله د لِیک په صورت کښې او کم از کم درې ځله په اشاره د خبرو کولو او د هرې میاشتې په وړومبي کُل مبارک د یَومِ قُفلِ مدینه مناوولو سعادت حاصل شي-)

2...... حضرت سَیِّدُنا سَلمان فارسي رَضِیَ اللهُ عَنْه د حضرت سَیِّدُنا عبدُ الله بِن سلام رَضِیَ اللهُ عَنْه سره ملاقات اوکړو او اوئې فرمائیل: ''که تاسو زما نه مخکښې وفات شئ نو تاسو ته چې کوم حالات پیښ شي د هغې ما ته خبر راکړئ او که زه مخکښې وفات شوم نو زه به تاسو ته خبر درکړم.'' چنانچه حضرت سَیِّدُنا سَلمان فارسي رَضِیَ اللهُ عَنْه مخکښې وفات شولو نو حضرت سَیِّدُنا عبدُ الله بِن سلام رَضِیَ اللهُ عَنْه په خوب کښې اولیدلو، تپوس ئې ترینه اوکړو: ''اے ابو عبدُ الله! تاسو څنګه ئې؟'' جواب ئې ورکړو: ''خیریت سره یم.'' بیا ئې ترینه تپوس اوکړو: تاسو ته کوم عمل افضل معلوم شو [یعني کوم عمل زیاته فائده درکړه]؟ حضرت سَیِّدُنا سلمان فارسي رَضِیَ اللهُ عَنْه اوفرمائیل: ''ما ته تَـوَکُّل ډیر ښه معلوم شو [یعني زیاته فائده ئې راکړه].''[1]

## د حکایت نه حاصل شوي مدني ګلونه

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د حضرت سَیِّدُنا سلمان فارسي رَضِیَ اللهُ عَنْه خوب زمونږ د پاره د خپل ربّ نه د تَوَکُّل درس راکوي چې مونږه خپل مُعاملات الله پاك ته

---

1 ...... حلیة الاولیاء، الرقم: ۳۴، سلمان الفارسی، الحدیث: ۶۵۵، ج۱، ص۲۶۴

اوسپارو، د هغه په رضا راضي شو ځکه چې تَوَکُّل "صرف د الله تعالیٰ په عنایتونو یقین ساتلو او څه چې خلقو سره دي د هغې نه مایوسه کیدلو ته وائي." [1]

حضرت سَیِّدُنا **سَهْل** رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د توکل کوونکي درې نښې دي: سوال نه کوي، کوم يو څيز رد کوي هُم نه، او ځان سره ئې هُم نه حصاروي.[2] دا به په آسانو ټکو کښې حضرت شیخُ الفضیلة، خلیفهٔ اعلیٰ حضرت، ضیاءُ الدِّین مدني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه داسې فرمائیل: "*طمع نہیں، منع نہیں اور جمع نہیں۔*"[3] [یعني سِوا د الله نه د چا نه طمع مه ساته، بیا که د الله پاک په فضل څوک څه درکوي نو اخستلو نه انکار مه کوه، او هغه ما ل ځان سره جمع مه ساته یعني د الله د رضا د پاره ئې خرچ کوه.]

## د نوافلو زیاتوالي جنت ته بوتلو

3..... حضرت نَصْر بِن علي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: ما حضرت سَیِّدُنا یزید بِن زُرَیع رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په خوب کښې اولیدلو تپوس مې ترینه اوکړو: **مَافَعَلَ اللّٰهُ بِکَ** یعني الله پاك ستا سره څه مُعامَله اوفرمائیله؟ جواب ئې راکړو: "زه جنت ته داخل کړے شوم" ما عرض اوکړو: "په کوم سبب؟" اوئې فرمائیل:"د زیاتو نوافِلو ادا کولو په وجه."

## د حکایت نه حاصل شوي مدني ګلونه

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** فارغ وخت هسې د پروت اوسیدلو په ځائے ذِکر و دُرود او نوافِلو وغیره کښې تیرول پکار دي ځکه چې بیا د مرګ نه پس به موقع نه

---

1 ...... الرسالة القشیریة، باب التوکل، ص۲۰۶

2 ...... الرسالة القشیریة، باب التوکل، ص۲۰۶

3 ...... سیدی قطبِ مدینه، ص ۱۲

مِلاويږي. په ژوند کښې ډير وخت فارغه ميلاويدے شي، لِهٰذا "فارغه وخت د مصروفيت نه مخکښې غنيمَت اوګنړئ" او زيات نوافِل ادا کړئ. [1]

کوشش اوکړئ او د سحر نه واخله د شپې اوده کيدو پورې ټولو کارونو کښې د اِشراق، څاښت او اوَّابينو نوافِل هم شامل کړئ او د شپې د تَهَجُّد لمُونځ هُم ادا کوئ. اَلْحَمْدُ لِلّٰه دې نوافِلو ادا کولو سره به د آخرت اجر و ثواب هُم حاصل کړئ او ورسره ورسره به درته ذِهني او قلبي آرام هم حاصليږي. څنګه چې خوږ نبـي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائيلے دے: "څوك چې د څاښت دوه رکعته پابندئ سره ادا کوي د هغه ګناهونه مُعاف کړے شي اګرکه د سمندر د زګ همره وي." [2] او تاجدارِ رِسالَت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: "زما په جُمات کښې يو لمُونځ ادا کول د لسو زرو لمُونځونو برابر دي- او په مسجدِ حرام کښې لمُونځ ادا کول د يو لاك لمُونځونو برابر دي او د جهاد په ميدان کښې لمُونځ ادا کول د شلو لاکو لمُونځونو برابر دي، او د دې ټولو نه زيات فضيلت والا لمُونځ د بنده هغه دوه رکعته دي کوم چې هغه د شپې په مينځنئ حصه کښې د رضائے اِلٰهی د پاره ادا کوي." [3] همت اوکړئ او د اوس نه نِيَّت اوکړئ چې زه به اِنْ شَآءَاللّٰه آئنده د تَهَجُّد، اِشراق، څاښت او اوَّابين نوافِل هم ادا کووم.

## د جنَّت بادشاه

حضرت يَحيٰ بِن ايوب رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه بيانوي چې د دوو سړو په خپل مينځ کښې ورور ولي وه، هغوئي د يو بل سره عهد [يعني وعده] کړي وه چې "که په مونږ کښې څوك

---

[1] ...... 152 رحمت بھری حکایات، ص۱۱۴ تا۱۱۵

[2] ...... ابن ماجه، كتاب امامة الصلوة...الخ، باب ماجاء فی صلوة الضحی، رقم ۱۳۸۲، ج ۲، ص ۱۵۳

[3] ...... الترغيب والترهيب، كتاب النوافل، الترغيب فی قيام الليل، رقم ۲۲، ج ۱، ص ۲۴۳

مخکښې وفات شو نو د مرګ نه پس به هغه بل ته د هغه ځائے احوال وائي،" بيا په هغوئي کښې يو وفات شو نو بل په خوب کښې اوليدلو او د حضرت سَيِّدُنا حَسَن بَصري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه مُتَعَلِّق تپوس ئې ترينه اوکړو. هغه اووئيل: "هغه په جنَّت کښې د بادشاهانو په شان دے (د هغوئي خادمان) د هغه نافرماني نه کوي." بيا ئې ترينه د حضرت سَيِّدُنا امام اِبنِ سِيرين رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه مُتَعَلِّق تپوس اوکړو: نو هغوئي اووئيل: "چې هغوئي په جنَّت کښې چرته غواړي اوسيږي او د هغې د نِعمتونو نه چې څه غواړي خوري ئې. خو د دواړو په مرتبو کښې فرق دے." بيا ترينه خوب ليدونکي تپوس اوکړو چې " حضرت سَيِّدُنا حَسَن بَصري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ته دا مقام څنګه حاصل شوے دے؟" جواب ئې ورکړو: "**د آخرت په فِکر کښې د ډيرې زياتې ويرې او د غمګين اوسيدلو په وجه.**" [1]

## کاش چې فِکرِ آخرت او خوفِ خُدا را نصيب شي

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** تاسو اوليدل چې د آخرت په فِکر کښې د سختې ويرې او غمګين اوسيدلو په وجه حضرت سَيِّدُنا حَسَن بَصري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ته په جنت کښې څنګه عظيم مقام حاصل شو. يقيناً خوفِ خُدا ډير لوئ نعمت دے، تر څو چې چا ته دا عظيم دولت نه وي حاصل شوے تر هغې پورې ګناهونه پريښودل او نيکئ کول تقريباً ډير مشکل وي. خو چې کله [د خَوفِ خُدا] دا عظيم دولت چا ته نصيب شي نو نيکئ کول او د ګناهونو نه بچ کيدل ډير آسان شي. د مُومِن په زړه کښې چې د الله پاك د ويرې شمع روښانه شي نو هغه شمع ئې د ګناهونو د تيارے نه بچ کوي او د نيکو اعمالو په نيغه لاره ئې روانوي. دا عظيم نِعمَت څه څيز دے؟ خوفِ خُدا څه ته وائي؟راځئ چې د دې په باره کښې واورو: شيخِ طريقت، اَميرِ اهلسنَّت، بانئ دعوتِ اسلامي حضرت علامه مولانا ابوبلال محمد الياس عطار قادري رضوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمْ

الْعَالِيَهْ په خپل مايه ناز تاليف ”**کفریہ کلمات کے بارے میں سوال جواب**“ کښې په صفحه 26 کښې ليکي: د **خوفِ خُدا** نه مراد دا دے چې د الله پاك د پټ تدبير، د هغه د بے نيازئ، د هغه د ناراضګئ، د هغه د نيولو، د هغه د عذابونو، د هغه د غضب او بيا د دې په نتيجه کښې د اِيمان بربادېدلو وغيره نه په ويره کښې د اوسيدلو نوم ”**خوفِ خُدا**“ دے. په قرآن کريم کښې الله پاك مومنانو ته په ډيرو ځايونو کښې د دې پاك صِفَت اختيارولو حکم کړے دے. په سيپاره 5 **سُورۂ نِسآء** آيت نمبر 131 کښې ارشادِ باري تعالٰی دے:

وَ لَقَدْ وَصَّیْنَا الَّذِیْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ مِنْ قَبْلِكُمْ وَ اِیَّاكُمْ اَنِ اتَّقُوا اللّٰهَؕ (پ۵، النسآء:۱۳۱)

[مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالاِیمان: او بيشکه تاکِيد کړے دے مونږه هغوئي ته کومو [خلقو] ته چې ستاسو نه مخکښې کتاب ورکړے شوے وو، او تاسو ته، چې د الله نه اويريږئ.

هُم دغسې په سيپاره 22 **سُورۂ اَحزاب** آيت نمبر 70 کښې ارشاد دے: [مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالاِیمان: اے اِيمان والؤ! د الله نه اويريږئ او سمه خبره کوئ. او په سيپاره 4 **سُورۂ آلِ عمرٰن** آيت نمبر 175 کښې ارشاد دے: [مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالاِیمان: او زما نه اويريږئ که اِيمان لرئ.

بانئ دعوتِ اسلامي، اَميرِ اهلسنّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَهْ د دې آيتِ کريمه نقل کولو نه پس ترغيب ورکوي، فرمائي: کاش! چې د دې مقدس آيت په برکت [زمونږ د سترګو نه] د غفلت پردې لرې شي او د رَحمت اُميد سره سره مونږ ته صحيح معنو کښې خوفِ خُدا رانصيب شي، په حقيقت کښې راته د دُنيا د فاني کيدلو احساس اوشي، کاش! چې په زړونو کښې مو د بدې خاتمې ويره پيدا شي، کاش چې هر وخت د خپل ربّ د ناراضګئ د ويرې بے قراره اوسو، کاش چې هر دَم د ځنکدن او د مرګ د

سختې د ويرې، د مرګ نه پس د خپل غسل او کفن دفن د کيفياتو، د قبر د تِيارو د ويرې، د مُنکر نکير د سُوالونو د فِکر، د قبر د عذابونو، د مَحشر د ګرمئ، د پُل صِراط د ويرې، د الله په بارګاه کښې د پيشئ، د قيامت په ميدان کښې د وړو وړو خبرو د تپوس د ويرې او د ټولو [انسانانو] په مخکښې د عيبونو ښکاره کيدلو د رُسوائي، د جَهَنَّم د خوفناکو چغو، د جنت د عظيمو نِعمتونو نه د محرومه کيدلو وغيره وغيره د ويرې بے سکونه او بے قراره اوسو- او کاش چې دا ويره زمونږ د پاره د هدايت او رحمت ذريعه جوړه شي څنګه چې په سيپاره 9 سُورهٔ اعراف آيت نمبر 154 کښې ارشادِ باري تعالیٰ دے:

هُدًى وَّ رَحْمَةٌ لِّلَّذِيْنَ هُمْ لِرَبِّهِمْ يَرْهَبُوْنَ ﴿۱۵۴﴾ (پ۹، الاعراف:۱۵۴)

[مَفهُوم] ترجمهٔ کنزُالاِيمان: هدايت او رحمت دے د هغوئي د پاره څوک چې د خپل رب نه يَريږي.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب!　　صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د نيکو اعمالو ترغيب

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** مونږه د جنَّت په باره کښې واوريدل چې جنَّت د اِيمان والؤ، د الله پاك د نيکو بندګانو د پاره يو داسې کور دے چې په هغې کښې هډو تکليف نشته، څه درد نشته، څه مصيبت او آزمائش پکښې نشته، يو داسې کور دے چې د هغې نعمتونه عارضي نه دي بلکه د هميشه هميشه د پاره دي. د دې خبرو په اوريدلو به زمونږ ذِهن جوړيږي چې کاش! زه هم جنت ته تللو والؤ کښې شامل شم، بيا مو په ذِهن کښې دا سوال پيدا کيږي چې زه به د جنت تياري څنګه کووم، د الله پاك د دې عظيم نِعمَت جنَّت حاصلولو د پاره ما له څه کول پکار دي؟ يقين اوکړئ چې د فتنو نه ډك دې دور کښې چې هر طرف ته د ګناهونو سيلاب راغلے

دے، د بدو صحبتونو او بدو دوستانو د بدو محفلونو په وجه هر طرف ته تباهي او بربادي راغلي ده، شيطان لعين زمونږ د اِيمان بربادولو پوره پوره کوشش کوي، په داسې حالاتو کښې د عاشقانِ رسول دِيني تحريك **دعوتِ اسلامي** دِيني ماحول د يو لوئ نِعمَت نه کم نه دے.

د دعوتِ اسلامي دِيني ماحول مونږ ته يو عظيم دِيني مقصد ښودلے دے، هغه دِيني مقصد څه دے؟ راځئ! چې ټول ئې په شريکه اووايو: **"ما ته د خپل ځان او د ټولې دُنيا د خلقو د اصلاح کوشش کول دي،"** اِنْ شَآءَاللّٰه

که مونږه په دې دِيني مقصد غور اوکړو نو د ټولو نه اوَّل "د خپلې اصلاح" وئيلے شوي دي يعني داسې نه چې مونږه صرف د نورو د اصلاح فکر خو کوو خو خپل ځان هير کړو، د خپل ځان د اصلاح کوشش کولو د پاره د شيخِ طريقت، اَميرِ اهلسنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَهْ له طرفه د نيکو اعمالو تُحفه هم يو لوئ نِعمَت دے، کاش چې مونږ ته په دې ژوند کښې د نيکو اعمالو حقيقي قدر را نصيب شي. يو يو نيک عمل لکه چې د جنَّت د لارې په تيارئ کښې مددګار دے. راځئ چې **نيک عمل نمبر 19** واورو: آيا تا نن د **تَهَجُّد لمُونځ** ادا کړے وو؟ يا د شپې نه اُوده کيدلو په صورت کښې دِ صلوٰةُ الَّيل ادا کړے وو؟ او نيک عمل نمبر 34: آيا تاسو نن **اَوَّبين** يا د **اِشراق و څاښت** نوافِل ادا کړي دي؟

**خورو او محترمو اسلامي ورونړو!** د تَهَجُّد لمُونځ، اشراق و څاښت او د اوَّبين نوافِل ادا کوئ او ځان د جنَّت حقدار جوړ کړئ. لږه شان ژبه خوزوئ **اَسْتَغْفِرُاللّٰهَ الْعَظِيْم** وائې او د **جَنَّت** حُورې اوګټئ. چنانچه يو بُزُرګ رَحۡمَةُاللّٰهِ عَلَيۡه څلويښتو کالو پورې د **الله** پاک عبادت اوکړو. يو ځل ئې دُعـا اوکړه: يا **الله** پاکـه! ستا په رحمت چې ما ته په **جَنَّت** کښې څه حاصليدو والا دي د هغې يو څرَک په دُنيا کښې هُم را اوښائې. دُعـا لا جاري وه چې

یو دَم محراب اوشلیدو او د هغې نه یوه ډیره ښکلې حُوره را اُووتله، هغې اُووئیل چې تا ته به په **جَنَّت** کښې زما په شان سل حُورې عنایت کیږي، چې په هغې کښې به د هرې یوے سل سل خادِمې او د هرې خادِمې سل سل وینزې وي اوپه هره وینزه به سل سل ناظِمانې (یعني انتظام کوونکې) وي. دا ئې چې واوریدل نو هغه بُزُرګ د خوشحالئ نه تاو شو او تپوس ئې ترینه اوکړو: آیا چا ته به په **جَنَّت** کښې زما نه زیات هُم ورکولے کیږي؟ جواب ئې ورکړو: دومره خو به هر هغه عام جَنَّتي ته هُم ملاویږي څوک چې سحر او ماښام **اَسْتَغْفِرُاللّٰهَ الْعَظِیْم** وائي. [1]

**اے د جنَّت طلبګارو عاشقانِ رسول!** تاسو اولیدل! هر هغه کس چې سحر او ماښام **اِسْتِغْفَار** لولي هغه ته به جنتي حورې مِلاویږي. هُم دغسې جنَّت ته داخلیدلو او هلته د اعلیٰ مرتبو حاصلولو ذریعه جوړیدونکو اعمالو کښې یو عمل سلام عام کول او په خلقو طعام خوړل هم دي، چنانچه فرمانِ مُصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دے: **سلام عام کړئ او په خلقو طعام خورئ جنَّت ته به داخِل شئ.**''[2]

**صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد**

دغسې نیکئ زیاتولو او د آخرت ثواب ګټلو د پاره د قرآنِ مجید د تلاوت عادت جوړول هم پکار دي، قرآنِ کریم د حافظانو سره سره قرآنِ کریم په تجوید او ترتیل (یعني د زبر، زِیر پیښ لحاظ ساتلو او واضحه الفاظو او په قلاره قلاره ادا کولو) سره په کتلو لوستلو والؤ، حلالو ته حلال ګڼرلو والؤ (یعني د قرآنِ کریم په احکاماتو عمل کولو والؤ) د پاره هم حدیثِ پاك کښې د جنَّت د اعلیٰ مرتبو حاصلولو زیرے دے.

---

1 ...... رَوْضُ الرَّیاحِین ص۵۵، از غیبت کی تباہ کاریاں، ص۹۸

2 ...... (الاحسان بترتیب ابن حبان، کتاب البر والاحسان، باب افشاء السلام، حدیث ۴۸۹، /

فرمانِ مُصطفٰی صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دے: "قرآن کریم لوستلو والا ته به وئیل شي چې قرآن لوله او د جنَّت درجې طے کوه او په قلاره قلاره قرآن لوله څنګه به چې تا په دُنیا کښې په قلاره قلاره لوستلو، ته چې چرته آخري آیت اولولې هُم هٔغه به ستا مقام وي." [1]

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللہُ عَلٰی مُحَمَّد

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** تاسو اولیدل! چې په دُنیا کښې په قلاره قلاره په صحیح طریقه قرآنِ کریم لوستلونکي او د هغې په احکاماتو باندې عمل کوونکي ډیر خوش قِسمته دي. داسې کس ته به اووئیل شي چې قرآن لوله او په جنَّت کښې خپلو اوچتو مرتبو ته خیژه، ځکه مونږ ته هم زیات نه زیات په صحیح طریقه د قرآن کریم د تِلاوت کولو او د قرآن کریم په احکاماتو باندې د عمل کولو کوشش پکار دے. [2]

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د جنَّت په تلاش کښې د عاشقانِ رسول نزدیکت حاصلولو او د ګناهونو نه بچ کیدلو او په نیکو کښې وخت تیرولو د پاره د نیکو خلقو صحبت اختیارول ډیر ضروري دي، ځکه چې د نیکو خلقو په صحبت کښې اوسیدلو سره د ګناهونو نه نفرت او د نیکو کولو ذِهن جوړیږي. که تاسو د دعوتِ اسلامي په دِیني ماحول کښې استقامت حاصلول غواړئ نو د دعوتِ اسلامي ذِمه دارانو سره عملي طور د نیکئ دعوت عام کولو په کارونو کښې شامل شئ، د دې په برکت به تاسو پخپله هم د ګناهونو نه بچ اوسئ او ورسره ورسره به نورو خلقو ته د نیکئ د دعوت ورکولو موقع هُم در نصیب شي. مونږه او تاسو چې کوم ځائے کښې

---

[1] ...... ابو داود، کتاب الوتر، باب استحباب الترتیل فی القراءة، حدیث ۱۴۶۴، ج۲، ص ۱۰۴

[2] ......بخاری، کتاب الجهاد والسیر، باب درجات المجاهدین فی سبیل الله...الخ، ۲/۲۵۰، الحدیث: ۲۷۹۰

اوسيږو، په هغه علاقه کښې د عاشقانِ رسول په جُمات کښې يا تعليمي اداره کښې يا په هاسټل کښې چې څومره کيدے شي مونږ له دِيني کارونو کښې د شرکت کولو کوشش کول پکار دي. دِيني کارونو کښې عملي شرکت کول زمونږه تنظيم سره د بخې وابستګئ يوه بهترينه ذريعه ده-

## دولسو دِيني کارونو کښې يو دِيني کار "مدني مذاکره"

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د دعوتِ اسلامي دِيني ماحول کښې ګناهونو نه د بچ کيدلو، د نيکئ کارونه کولو او په شريعت باندې د عمل کولو ترغيب ورکولے کيږي، دلته دا ذِهن هم ورکولے کيږي چې مونږه د شرعي تقاضو مطابق خپل ژوند څنګه بهترين جوړولے شو، د جنت تياري څنګه کيدے شي؟ تاسو خپلو مصروفياتو نه وخت اوباسئ او د ذِيلي حلقے په 12 دِيني کارونو کښې په اخلاص سره خپل کردار ادا کړئ او د ډيرو ثوابونو حقدار جوړ شئ. په دې دِيني کارونو کښې يو دِيني کار د اَميرِ اهلسنت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَهْ هفته واره "**مدني مذاکره**" هم ده. د مدني مُذاکرے بےشميره ديني او دنياوي فائدے دي: ❖ د **مدني مذاکرے** په برکت د ګناهونو نه د بچ کيدلو ذهن نصيب کيږي. ❖ د **مدني مذاکرے** په برکت علمِ دين حاصليږي. ❖ د **مدني مذاکرے** په برکت په سنتو د عمل کولو ذهن نصيب کيږي. ❖ د **مدني مذاکرے** په برکت ديني معلوماتو سره سره اخلاقي تربيت هم نصيب کيږي. اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ د دې دِيني کار په برکت بے شميره خلقو ګناهونه پريښودل او د نيکئ کارونه کولو والا جوړ شو.

## ګناهونه نه ئې توبه اوکړه

د واه کينټ (پنجاب پاکستان) يو اسلامي ورور په ډيرو بدو کښې اخته وو، يوه ورځ ورته په مدني چينل باندې د مدني مذاکرے کتلو سعادت نصيب شو. **اَلْحَمْدُ لِلّٰه**! د

مدني مذاکرے کتلو اوریدلو په برکت هغه ته ډیر سکون نصیب شو او هغه د خپلو ټولو ګناهونو نه توبه اوکړه او په فرائضو او واجباتو باندې د عمل کولو کوشش کښې لګیا شو، ګیره ئې پریښودله او د سُنَّت مطابق اسلامي حُلیه ئې هم جوړه کړه، د الله پاك نور کرم پرې دا اوشو چې مور و پلار په خپله رضامندئ هغه د دعوتِ اسلامي د دِیني کارونو د پاره ''**وقفِ مدینه**'' جوړ کړو.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د روحاني علاج (Rohani ilaj) اَیپ تعارف

**خوړو او محترمو اسلامي ورونړو!** **اَلْحَمْدُ لِلّٰه** د عاشقانِ رسول دِیني تحریك دعوتِ اسلامي د سوشل میډیا په دې دور کښې جدید ذرائع اختیاروي او د هرې شُعبے او هرې طبقے په خلقو کښې د نیکئ دعوت عام کولو سره سره په مختلف انداز کښې د دې اُمَّت په خیر خواهئ کښې هم مصروفِ عمل دے. **اَلْحَمْدُ لِلّٰه** آئی. ټی ډیپارټمنټ په خپل کوشش د **روحاني علاج** (Rohani ilaj) په نوم یو اَیپ جوړ کړے دے، په دې اَیپ کښې په مختلفو موضوعاتو باندې 40 روحاني علاجونه ښودلے شوي دي مثلاً ❖ د اِیمان د حفاظت د پاره کومه وظیفه لوستل پکار دي ❖ د غُربت نه څنګه خلاصے حاصلیدے شي؟ ❖ د مُصیبتونو نه حفاظت حاصلولو د پاره څه کول پکار دي؟ ❖ د صالِح اولاد کیدلو د پاره څه لوستل پکار دي؟ ❖ نارینه اولاد د پاره کومه وظیفه ده؟ ❖ د زړه زنګ څنګه لرې کیدے شي؟ ❖ اولاد فرمانبردار جوړولو د پاره کومه وظیفه ده؟ ❖ هغه کومه وظیفه ده چې د جادو اثر ختموي وغیره، زر تر زره دا اَیپ په خپل موبائل کښې انسټال کړئ او ډیر برکتونه حاصل کړئ.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** د بيان په آخره کښې د سُنّتو فضيلت او يو څو سُنّتونه او آداب د بيانولو ثواب حاصلووم. تاجدارِ رِسالت، **شَهَنْشاهِ نُبُوَّت** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائي: "چا چې زما سُنّتو سره مَحَبَّت اوکړو هغه زما سره مَحَبَّت اوکړو او چا چې زما سره مَحَبَّت اوکړو هغه به جنّت کښې زما سره وي."[1]

سینہ تیری سُنَّت کا مدینہ بنے آقا　　جنت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

سِينه مې دِ شي جوړه د سنّتو مدينه خوږه آقا　　جنّت کښې مې خپل جوړ کړه ګاونډي خوږه آقا

## د لباس اغوستلو سنتونه او آداب

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** راځئ چې د اميرِ اهلسنت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د رسالے 163 مدني ګلونه نه د لباس اغوستلو متعلق يو څو مدني ګلونه واورو:

اَوَّل درې فرامينِ مصطفٰی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوګورئ: ❖ د پيريانو د سترګو او د خلقو د سِتر په مينځ کښې پرده دا ده چې کله څوک جامې ويستل غواړي نو [مخکښې دِ] بِسْمِ الله اولولي.[2] مُفَسِّرِ قرآن، حضرت مُفتي اَحمد يار خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: څنګه چې ديوالونه او پردے د خلقو د نظر نه رُکاوټ [يعني پناه] جوړيږي دغسې به دا د **الله** پاك ذِکر د پيريانو د سترګو نه پرده جوړيږي او شيطان به هغه (يعني شرمګاه) نه شي ليدلے.[3] ❖ څوک چې کپړے واغوندي او دا اولولي: اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ کَسَانِیْ هٰذَا وَرَزَقَنِیْهِ مِنْ غَیْرِ حَوْلٍ مِّنِّیْ وَلَا قُوَّةٍ (ترجمه: ټول تعريفونه الله پاك لره دي چا چې ما ته دا جامې واغوستلې او زما د طاقت او قوت نه بغير ئې ما ته عطا کړې) نو د هغه مخکښې وروستو ګُناهونه به معاف

1...ابنِ عساکر ج۹ ص ۳۴۳

2...اَلْمُعْجَمُ الْاَوْسَط، ۲/۵۹ حديث: ۲۵۰۴

3...مراٰة المناجيح، ۱/۲۶۸ بتغير قليل

شي.[1] ❖ څوک چې د قدرت [يعني د وَس لرلو] باوجود ښائسته او ښکلې جامې اغوستل د تواضُع (يعني د عاجزئ) په طور پرېږدي، اللّٰه تعالیٰ به هغه ته د کرامت حُلّه وراغوندي.[2] ❖ د حُضُورِ اَکرم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم مبارک لباس به اکثر د سپينې کپړے وو. [3] ❖ لباس د حلالې ګټې پکار دے، او کوم لباس چې د حرامې ګټې نه حاصل شوے وي، په هغې کښې فرض و نفل يو لـمونځ هم نه قبلېږي. [4] ❖ **منقول** دي: چا چې په ناسته عمامه اوتړله يا ئې په ولاړه پاجامه يا پرتوګ واغوستلو نو **اللّٰه** پاك به هغه په داسې مرض کښې اخته کړي چې د هغې علاج نشته.[5] ❖ د اغوستلو په وخت کښې د ښي طرف نه شروع اوکړئ (چې دا سنّت دي) مثلاً چې کُرته [يا قميص] اغوندئ نو مخکښې په ښي لِستوڼي کښې ښے لاس داخل کړئ بيا ګڅ لاس په ګڅ لِستوڼي کښې. [6] ❖ هم دغسې پرتوګ اغوستلو کښې مخکښې په ښئ پينڅه کښې ښئ ښپه داخله کړئ او چې کله (قميص يا پرتوګ) اوباسئ نو د دې برعکس (يعني برخِلاف) کوئ، يعني د ګڅ طرف نه شروع کوئ. ❖ د دعوتِ اِسلامي د اِشاعتي ادارے مَکۡتَبَۃُ الۡمَدِینه چاپ شوي د **1197** صفحو کتاب **بهارِشريعت** جلد **3** صفحه **409** کښې دي: سُنَّت دا دي چې د لمَن اوګړدوالے د

[1] ... شُعَبُ الۡاِیمان ج۵ ص۱۸۱ حدیث۶۲۸۵

[2] ... ابو داوٗد ۴/۳۲۶ حدیث:۴۰۲۸

[3] ... کَشۡفُ الاِلۡتِباس فِی اسۡتِحۡبابِ اللِّباس لِلشَّیۡخ عبدالۡحَقّ الدّھلَوی ص۳۶

[4] ... اَیضاً ص۴۱

[5] ... اَیضاً ص ۳۹

[6] ... اَیضاً۴۳

پنډۍ د نيمې پورې وي او د لِستونړي اوګږدوالے زيات نه زيات د ګوتو د څوکو پورې او پلن والے ئې يو لويشت وي.[1] ❖ سُنَّت دا دي چې د نارينه لَنګ يا پاجامه [يعني پرتوګ وغيره] د ګيټۍ نه پاس وي.[2] ❖ نارينه دِ د نارينۀ او زنانه دِ د زنانۀ جامې اغوندي، په وړو ماشومانو کښې هم د دې خبرې لحاظ ساتئ، ❖ د دعوتِ اِسلامي د اِشاعتي ادارے مَكْتَبَةُ الْمَدِيْنه چاپ شوي د **1250**صفحو کتاب **بهارِ شريعت** جِلد اَوّل صفحه **481** کښې دي: د نارينه د پاره د نامه د لاندې نه د زنګونانو د لاندې پورې ”عورت“ (يعني شرمګاه) ده، د دې پټول فرض دي. نوم پکښې شامِل نه دے او زنګونان پکښې شامِل دي.[3]

قِسماقِسم سنّتونه زده کولو د پاره د **مَكْتَبَةُ الْمَدِيْنَه** دوه کتابونه (۱) د 312 صفحو کتاب ”بهارِشريعت“ حصّه 16 او (۲) د 120 صفحو کتاب ”**سُنَّتیں اور آداب**“ او د اَميرِ اهلسنت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه دوه رسالے ”**101 مدنی پھول**“ او ”**163 مدني ګلونه**“ هديةً واخلئ او د دې مُطالَعه اوکړئ. د سُنَّتو د تربِيَّت يوه غوره ذريعه د دعوتِ اسلامي په قافِلو کښې عاشِقانِ رسول سره د سُنّتو ډك سفر هم دے.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

# د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګانې

---

[1] ... رَدُّالْمُحتار ج۹ص۵۷۹

[2] ... مراٰة ج۶ص۹۴

[3] ... دُرِّمُختار، رَدُّالْمُحتار ج۲ص۹۳

## ﴿1﴾ د شَبِ جُمعې [یعني د جُمعې د شپې] دُرُود

اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدِ نِالنَّبِيِّ الْاُمِّيِّ الْحَبِيْبِ الْعَالِى الْقَدْرِ الْعَظِيْمِ الْجَاهِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

بُزرګانو فرمائيلي دي چې څوك هره شَبِ جُمعه (يعني د جُمعې او زيارت مينځنۍ شپه باندې) دا دُرُود شريف پابندۍ سره کم ازکم يو ځل لوَلي هغه به د مرګ په وخت کښې د سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِيدار کوي او قَبر کښې داخليدلو وخت کښې هُم، تر دې چې سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغه قَبر کښې د خپل رَحمت نه ډکو لاسونو باندې کوزوي.[1] راځئ چې مونږه هم په شريکه دا دُرُود اووائيو.

## ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِهٖ وَسَلِّمْ

د حضرتِ سيِّدُنا انَس رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دے چې تاجدارِمدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي كه ولاړ وو نو كښيناستلو نه مخكښې او كه ناست وو نو اودريدلو نه مخكښې به د هغه ګناهونه مُعاف كړے شي. راځئ چې مونږه هم په شريكه دا دُرُود اووائيو.

## ﴿3﴾ د رَحمت اويا دروازے:

صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

1... افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة السادسة والخمسون، ص١٥١ ملخصًا

څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اويا دروازے بيرته كړے شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريكه اووائيو.

## ﴿4﴾ د شپږ لاكه دُرُود شريف ثواب

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِيْ عِلْمِ اللّٰهِ صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰهِ

حضرت اَحْمَد صاوِى رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د بَعضو بُزرګانو نه نَقل كوي: دا دُرُود شريف يو ځل لوستلو باندې د شپږو لاكو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي.[2] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريكه اووائيو.

## ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ كَمَا تُحِبُّ وَتَرْضٰى لَهٗ

يوه ورځ يو كس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدّيقِ اكبر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ تر مينځه كښينولو، په دې باندې صَحابَهٔ كرام رَضِيَ اللهُ عَنْهُم حيران شو چې دا څوك اوچتې مرتبے والا دے! چې كله هغه لاړو نو سركار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: دا چې كله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسې ئې لوَلي.[3] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريكه اووائيو.

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

1... القول البديع، الباب الثانى، ص٢٧٧

2... افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة الثانية والخمسون، ص١٤٩

3... القول البديع، الباب الاول، ص١٢٥

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَکَ یَوْمَ الْقِیَامَةِ

د شفِيعِ اُمَّت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: خوك چې داسې دُرود شريف اولوَلي، د هغه د پاره زما شفاعت واجب شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿1﴾ د يو زر ورځو نيکئ:

جَزَی اللّٰهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ

حضرتِ سَيِّدُنا ابنِ عباس رَضِیَ اللهُ عَنْهُمَا نه رِوايت دے چې سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د دې د لوستونکي د پاره فرښتے يو زر ورځو پورې نيکئ ليکي.[2] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿2﴾ داسې ده لکه شبِ قدر ئې چې حاصل کړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لکه هغه چې شَبِ قَدر حاصل کړو.[3] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شريکه اووائيو.

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْم

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

---

1... الترغيب والترهيب، کتاب الذکر و الدعاء، ۲/۳۲۹، حديث:۳۰

2... مجمع الزوائد، کتاب الادعية، باب فی کيفية الصلاة... الخ، ۱۰/۲۵۴، حديث:۱۷۳۰۵

3... تاريخ ابنِ عساکر، ۱۹/۱۵۵، حديث:۴۴۱۵